

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

ابادي اوونيزه

هفته نامه آبادی

گڼه: ۴۰ | مسلسل نمبر: ۸۲

شنبه، د رجب المرجب ۱۷مه، ۱۴۴۶ هـ.ق کال


د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال:

## اسلامي امارت راستنېدونکو صنعت‌کارانو او پانګوالو ته په صنعتي ساحو کې ځمکې، امتيازونه او اسانتياوې په پام کې نيولې




۲ صفحه

## ملي تدارکاتو کمېسيون د شاوخوا درې ميلياردو افغانيو په ارزښت يوشمېر پروژې منظورې کړې



۲ مه صفحه

## د اضافي مالي معافيت او د سوداګرۍ پر پراختيا يې اغېزې



۵ مه صفحه



# سرليکنه

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ کال د مرغومي مياشتې په ۲۷مه (په افغانستان کې پانګونې ته بلنه) تر سرليک لاندې جوړ شوي کنفرانس کې ګډون وکړ. محترم ملا صاحب په همدې مناسبت جوړ شوو مراسمو کې ووېل، اسلامي امارت د هېواد د اقتصادي ودې، د نويو کاري فرصتونو رامنځته کولو، له خصوصي سکتور څخه د ملاتړ او دغه راز د سوداګرۍ او ترانزيټ په برخه کې د لازمو اسانتياوو رامنځته کولو په موخه اساسي ګامونه اخيستي. په همدې موخه د عاليقدر امير المؤمنين شيخ صاحب حفظه الله د ۳مې او ۷مې ګڼې فرمانونو له مخې د صنعتي ساحو قانون او د راستنېدونکو صنعت‌کارانو او سوداګرو لپاره د امتيازونو او اسانتياوو تنظيمولو طرزالعمل منظور شوي دي. د محترم ملا صاحب په خبره، د صنعتي ساحو قانون او د راستنېدونکو صنعت کارانو او سوداګرو له پاره جوړ شوي طرزالعمل اصلي موخه د صنعتي ساحو د تنظيم له لارې د افغانستان اقتصاد ته وده ورکول، د خصوصي پانګونې د جلب لپاره د زمينې برابرول او دوی ته امتياز ورکول دي.

افغانستان اوس په داسې يوه حالت کې دی چې د اقتصادي ودې لپاره ځانګړې او جدي هڅې غواړي. د پانګونې په برخه کې بايد له شته معيارونو سره سم کار وشي او په هېواد کې د کورنيو او نړيوالو پانګه‌والو لپاره ټولې اړينې اسانتياوې برابرې شي. دا نه يوازې د افغانستان اقتصاد ته نوی ژوند ښښلی شي، بلکې د هېواد د خلکو لپاره د سوکالۍ او پرمختګ فرصتونه هم زياتولی شي.

له نيکه مرغه اسلامي امارت د پانګونې اهميت ته په کتو د پانګونې د جلب او جذب له پاره اغېزناک ګامونه اخيستي دي. پانګوالو ته يې د پانګونې له پاره زمينه برابره کړې او دوی ته يې ډېر امتيازونه په پام کې نيولي دي. موخه يې داده چې د پانګونې پر مټ وکولای شي، د هېواد د صنعت، سوداګرۍ او کرنې سکتورونه پياوړي او نورې زېربناوې ورغوي. د خصوصي سکتور څخه د ملاتړ صندوق پرانيستل، بېلا بېلو اصنافو ته د مالياتي جريمو معاف کېدل، پر هغو وارداتي توکو د تعرفې لوړېدل چې په کور د ننه توليدېږي، امارتي ادارو او هېوادوالو ته له کورنيو توليداتو د ګټې اخيستنې سپارښتنه او اوس د صنعتي ساحو د تنظيم قانون او د راستنېدونکو صنعت کارانو او سوداګرو له پاره د طرزالعمل جوړول د دې هلو ځلو ښکاره بېلګې دي. د دې قانون او طرزالعمل له مخې به له يوه لورې کورنيو او بهرنيو پانګوالو ته د پانګونې له پاره فرصت برابر شي، په بهر کې به افغان پانګوال خپله پانګه هېواد ته را انتقال او له بل لورې به زموږ صنعت، سوداګري، ترانزيټ، کرنه او نور سکتورونه پراختيا ومومي. کله چې موږ په زياته اندازه کورنۍ او بهرنۍ پانګه راجلب کړو، نو بيا دا يقيني خبره ده چې افغانستان به پرمختګ کوي او اقتصاد به يې په پښو درېږي.



dpmea.gov.af/ps

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـادي او ټـولنیزو مسایلـو په برخـه کـې
د ریاســت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

ابادي اوونیزه
هفته‌نامه آبادی


د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال:

## اسلامي امارت راستنېدونکو صنعتکارانو او پانګوالو ته په صنعتي ساحو کې ځمکې، امتیازونه او اسانتیاوې په پام کې نیولي



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ کال د مرغومي میاشتې په ۲۷ مه نېټه (په افغانســتان کې پانګونې ته بلنه) تر سرلیک لاندې جوړ شــوي کنفرانس کې ګــډون وکړ. په دې کنفرانس کې د کابینې یوشــمېر غړو، د بهرنیو هېوادونو سفیرانو، د نړیوالو بنسټونو استازو، ملي سوداګرو، پانګوالو او د خصوصي ســکتور استازو هم حضور درلود. محترم ملا صاحب په همدې مناســبت جوړو شوو مراسمو کې وویل، اسلامي امارت د هېواد د اقتصادي ودې، د نویو کاري فرصتونو رامنځته کولو، له خصوصي سکتور څخه د ملاتړ او دغه راز د سوداګرۍ او ترانزیټ په برخه کې لازمو اســانتیاوو رامنځته کولو په موخه اساسي ګامونه اخیستي. په همدې موخه د عالیقدر امیر المؤمنین شیخ صاحب حفظه الله د ۳مې او ۷مې ګڼې فرمانونو له مخې د صنعتي ســاحو قانون او د راستنېدونکو صنعتکارانو او سوداګرو لپاره د امتیازونو او اسانتیاوو تنظیمولو طرزالعمل منظــور شــوي دي. د محترم ملا صاحــب په خبره، د صنعتي ساحو قانون اصلي موخه د صنعتي ساحو د تنظیم له لارې د افغانستان اقتصاد ته وده ورکول او د خصوصي پانګونــې د جلب لپاره د زمینې برابــرول دي. همدا راز د راستنېدونکو صنعتکارانو او سوداګرو لپاره د جوړ شوي طرزالعمل له مخې ټول صنعتکاران او سوداګر پر نورو امتیازونو سربېره د کارکوونکو له مالیې پرته له نورو مالیاتو څخه د پینځو کلونو او همدا راز پر ټولو وارداتي ماشــین الاتو او وســایلو یې ګمرکي محصول ورته معاف شوی دی. د دوی په غوښتنه فني بهرنیو کارکوونکو او انجنیرانو ته دوه کلني ویزې هم ورکول کېږي. د ریاســت‌الوزراء اقتصادي مرســتیال زیاته کړه، له دې څخه د اسلامي امارت موخه دا ده، څو په کور دننه او له هېواد څخه بهر افغان صنعتکاران او پانګوال په خپل هېواد کې پانګونې ته وهڅوي چې په مرسته به یې صنعت پرمختګ وکړي، هېوادوالو ته به کاري زمینه برابره او د کورني تولید کچه به زیاته شي. محترم ملا صاحب د خصوصي ســکتور ملاتړ ته په اشــارې سره وویل، اسلامي امارت د کورنیو تولیداتو د ملاتړ په موخه پر هغو وارداتي اقلامو ګمرکي تعرفې لوړې کړې چې هغه پــه کور دننه تولیدېږي او د هېوادوالو اړتیاوې پــوره کولی شي. د دې تر څنګ ټولو امارتي ادارو ته هدایت شــوی چې د خپلــو خریداریو پرمهال کورنیــو تولیداتو او محصولاتو تــه لومړیتوب ورکړي. پر دې سربېره له خصوصي سکتور څخه د ملاتړ صندوق هم جوړ شــوی چې په بېلابېلو برخو کې ښې لاسته راوړنې لري. په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په کور دننه او بهر کې مېشــت افغان صنعتکارانــو او پانګوالو څخه وغوښتل څو خپل صنعت او پانګه افغانستان ته را انتقال او د هېواد په پرمختګ کې خپل مســـوولیت ادا کړي. اســـلامي امارت دوی تـــه د اړتیا پر مهـــال د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکوي

## ملي تدارکاتو کمېسیون د شاوخوا درې میلیاردو افغانیو په ارزښت یوشمېر پروژې منظورې کړې



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ ملي تدارکاتو کمېسیون د شاوخوا درې میلیاردو افغانیو په ارزښــت د ۱۷ پروژو قراردادونه منظــور او د ۹ نــورو یې تعدیل کړل. د مــلي تدارکاتو کمېسیون نوبتي غونډې ته چې د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د مرغومي میاشتې په ۲۲مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، له اجندا سره سم ۳۲ پروژې د بحث لپاره وړاندې شوې چې له جملې یې د ۱۷ پروژو قراردادونه



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـــادي او تـــولنیزو مسایلـــو په برخـــه کـــې
د ریاســـت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اوونيزه
ابادي
هفته‌نامـه آبـادی

منظـــور، د ۹ تعدیل او دوې پروژې د تدارکاتي مراحلو د ستونزو له امله رد شوې او په اړه یې اړوندو مسوولینو ته سپارښتنه وشوه، څو یې د تدارکاتي پروسې د ټولو اصولو په پام کې نیولو سره بیاځلي ازادې داوطلبی ته وړاندې کړي. همدارنګه د څلورو پروژو د قراردادونو د قیمتونو په اړه ټاکل شویو کمېټو ته دنده وسپارل شوه چې له ګټوونکو شرکتونو سره مجلس ترسره او خپل راپور د ملي تدارکاتو کمېسیون مشرتابه ته وړاندې کړي. په منظور شـــوو او تعدیل شوو پروژو کې د کابل ولایت د ارغندی ترانســـپورټي ترمینل جوړول، د هرات ولایت په ګذرې ولسوالۍ کې د باروړونکو موټرو تمځای جوړول، د آقینې – اندخوی او تورغونډۍ اوسپني پټلۍ پروژو ترمیم، په کندهار، هلمند او فراه ولایتونـــو کې د نوري فایبر لین غځول، د کابل ښار د یوشـــمېر داخلي سړکونو اساسي جوړول، په بېلا بېلو ولایتونو کې د برېښنا په برخه کې د شته پروژو د پاتې چارو بشپړول او یوشمېر نوري پروژې شاملې دي چې د اسلامي امارت له لوري تمویلېږي.

## اخبـــار اقتصـــادی هفتـــه

### نزدیک به سه کیلومتر از پایپ لایـــن پـــروژۀ تاپی در افغانستان ساخته شده است

همایون افغان ســخن‌گوی وزارت معـــادن و پترولیم از ساخت وساز نزدیک به سه کیلومتر پایپ لاین پروژۀ تاپی در خاک افغانســـتان خبر داده اســـت. سخن‌گوی این وزارت گفته که نزدیک به سه ونیم کیلومتر ساحه دیگر نیز در مســـیر نصب پایپ لاین آماده شـــده است. همایون افغان گفت: «کار پروژۀ تاپی فعلا به گونه عادی جریان دارد و از آغاز تاکنون دو اعشاریه ۹ کیلومتر ساخت و ساز پایپ‌لاین آن امتداد یافته و ولدنگ‌کاری شده است و در حدود سه اعشاریه چهار کیلومتر برای آن ساحه آماده شده و کار های استملاک نیز جریان دارد.» هزینه مجموعی پروژه تاپی ده میلیارد دالر تخمین زده شده که افغانستان در کنار دریافت گاز، از حق ترانزیت آن نیز ســـالانه ۴۰۰ میلیون دالر دریافت می‌کنـــد. این پروژه منطقه‌ای، گاز ترکمنستان را از طریق افغانستان به پاکستان و از آن‌جا به هند انتقال می‌دهد.

### سرمایه‌گـــذاری بیش از یک میلیـــارد دالـــر در سکتور مرغداری افغانستان

وزارت زراعـــت، آبیاری و مالـــداری آمار می دهد که بیـــش از یک میلیـــارد دالـــر در ســـکتور مرغداری افغانستان از سوی ســـکتور خصوصی سرمایه‌گذاری شده اســـت. مصباح‌الدین مســـتعین سخن‌گوی این وزارت می‌گوید که اکنون در سراسر افغانســـتان بیش از ۱۵ هـــزار فـــارم پـــرورش مرغ وجـــود دارد. آقای مســـتعین در این باره گفت: «تاکنون حدود ۱۵ هزار فارم مرغ در کشور فعال است که بیش از یک میلیارد دالر ارزش دارد. این فارم‌ها در راســـتای خودکفایی ســـکتور مرغداری و توســـعه این بخـــش فعالیت می کننـــد.» با این حـــال، برخی از فارم‌داران خواســـتار فراهم سازی ســـهولت‌های بیشتر از سوی مسوولان وزارت زراعت، آبیاری و مالداری هســـتند. مرغداری در افغانستان یکی از منابع مهم تأمین گوشت و تخم مرغ است.

### قرارداد ساخت دو بند آب در هرات از سوی وزارت انرژی و آب امضاء شد

وزارت انرژی و آب افغانستان می‌گوید که قرارداد ساخت دو بنـــد آب در ولایت هـــرات را با یک شرکت ســـاختمانی خصوصی به امضاء رســـانده است. به گفته مسوولان این وزارت، این قرارداد در مرحله اول شـــامل سروی و طراحی این بندها می‌شـــود و پس از اتمـــام این مرحله، عملیات ساخت آغاز خواهد شد. مطیع‌الله عابد سخن‌گوی وزارت انرژی و آب گفت: «محترم مولـــوی عبدالطیف منصور، سرپرست وزارت انرژی و آب، تفاهم‌نامه سروی، طراحی و اجـــرای دو بنـــد آب در ولایـــت هرات را بـــا یک شرکت خصوصی امضاء کرده است. بر اساس این تفاهم‌نامه، این شرکت می‌توانـــد کار سروی و طراحی را آغاز کند و وزارت انرژی و آب نیز طبق ایـــن توافق هم‌کاری خواهد کرد.» باشندگان هرات از ساخت این بندها استقبال کرده و آن را اقدامی ســـودمند برای زراعت و جلوگیری از هدررفتن آب های جاری می‌دانند.

### وزارت صنعت و تجارت: در ۹ مـــاه بیش از ۴۲ هزار کیلوگـــرام زعفران صادر شده است

وزارت صنعت و تجارت آمار می‌دهد که در ۹ ماه نخست سال ۱۴۰۳، بیش از ۴۲ هزار و ۲۰۰ کیلوگرام زعفران افغانستان به ارزش ۲۹ میلیون و ۵۸۸ هزار دالر به کشورهای گوناگون صادر شده است. آخندزاده عبدالسلام جواد سخن‌گوی این وزارت تاکید کرد که بیش ترین صادرات زعفران افغانستان به هند، اســـپانیا، عربستان، امارات متحده عربی، فرانسه، استرالیا و ترکیه انجام شده است. زعفران افغانستان که به عنوان یکی از بـــا ارزش ترین محصولات زراعتی کشـــور شناخته می‌شود، از شهرت جهانی برخوردار است. زعفران از سوی وزارت زراعت، آبیاری و مالداری به عنوان گیاه بدیل کشت کوکنار در افغانســـتان معرفی شده و به باور برخی از آگاهان اگر از زعفران کاران در کشور پشتیبانی انجام شود افغانستان می‌تواند از طریق فروش آن در بازارهای جهانی عواید خوب بدست بیاورند.

ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
اباديِ اوونیزه
هفته نامه آبادی



# د اضافي مالیې معافیت
# او د سوداګرۍ پر پراختیا یې اغېزې

نویسنده: قیس احمد



## سریزه

سوداګري هغه فعالیت دی چې په ترڅ کې یې توکي او خدمات د پیسو په بدل کې په یوه ځای یا بازار کې پلورل او اخیستل کیږي. سوداګري د اقتصادي اړیکو یوه بنسټیزه برخه ده او د مختلفو کاروباري فعالیتونو لکه تولید، توزیع، خرڅلاو، اخیستلو او خپله د سوداګرۍ په اړه د پوهې ترلاسه کولو ته اړتیا لري. سوداګري د ټولنو د اقتصادي پراختیا په برخه کې اساسي رول لري او د تولیدوونکو او مصرفوونکو ترمنځ د اړیکو په جوړولو سره د منابعو په غوره ویش کې هم مرسته کوي. دا فعالیت په مختلفو سطحو لکه محلي، ملي او نړیواله کچه ترسره کېږي او د یوه هېواد په اقتصادي وده کې اساسي رول لري چې د پراختیا او ودې لپاره یې د حکومت ملاتړ او د حکومت له لوري د سهولتونو برابرول خورا اړین دي. د حکومت له ملاتړ پرته دا سکتور هغسې چې لازمه ده وده نشي کولی.

له نیکه‌مرغه اسلامي امارت په افغانستان کې د دغه مهم اقتصادي سکتور د پراختیا او پرمختګ لپاره زیات سهولتونه رامنځته کړي دي. د دې سهولتونو له جملې یو هم د اضافي مالیې(مالیاتي جریمې) معافیت او د ثابتې مالیې راټیټول دي چې د هېواد په کچه یې پر سوداګرۍ مثبت اغېز کړی دی. موږ په دې مقاله کې د سوداګرۍ د ودې او پراختیا په برخه کې د اضافي مالیې د معافیت او ثابتې مالیې د راټیټېدو پر رول لنډې خبرې کوو.

## د افغانستان د سوداګرۍ کلنۍ کچه

افغانستان اوسمهال د ګاونډیو، سیمې او نړۍ له لسګونو هېوادونو سره فعالې سوداګریزې اړیکې لري. دغه اړیکې د اسلامي امارت په حاکمیت سره پراخې شوې دي. افغانستان اوسمهال شاوخوا ۷۰ هېوادونو ته په ۲۴ سکتورونو کې صادرات لري چې مهم یې وچې او تازه میوې، سبزیجات، قیمتي او نیمه قیمتي ډبرې، د ډبرو سکاره، زعفران، کرنیز محصولات، طبي بوټي او یوشمېر نور توکي دي.

د صادراتو د زیاتوالي په موخه اسلامي امارت اساسي هڅې پیل کړې دي. په همدې موخه یې پر ځمکنیو لارو سربېره هوایي دهلیزونه هم پرانیستي، پر صادراتو یې ګمرکي محصول د پام وړ را ټیټ کړی، د صادراتو د معیاري پروسس او بسته‌بندۍ په موخه د هېواد په کچه شپږ صادراتي زونونه جوړوي، په ټولو ګمرکونو کې یې کاري وخت زیات او ان په یوشمېر لویو بندرونو کې یې ۲۴ ساعته کړی دی. د همدې هڅو په پایله کې د تېرو دوو کلونو پر مهال د هېواد په صادراتو کې ۱۵۰ سلنه زیاتوالی راغلی چې په تېرو دوو کلونو کې یې کلنۍ کچه شاوخوا دوو میلیاردو ډالرو ته رسېدلې او روان کال کې هم تمه کېږي چې دا کچه به تر دې زیاته شي.

افغانستان د خپلې اړتیا وړ توکي لکه تخنیکي وسایل او ماشین الات، نفت او ګاز، خوراکي توکي او درمل له بهرنیو هېوادونو واردوي. د تېر ۲۰۲۴ میلادي کال پرمهال د هېواد د سوداګریزو راکړو ورکړو مجموعي کچه ۱۲ میلیارد او ۴۲۲ میلیونو ډالرو ته رسېدلې، چې د تېر په پرتله په‌کې زیاتوالی راغلی دی.

## د سوداګرۍ سکتور د ملاتړ او ودې په موخه د اضافي مالیې معافیت

د هېواد په اقتصادي وده کې د سوداګرۍ رول ته په کتو اسلامي امارت د خصوصي سکتور د ملاتړ او د سوداګرۍ د پراختیا او ودې په موخه د ۹/ ۵/ ۱۴۴۴ نېټې څخه مخکې د تېرو دوو کلونو اضافي مالیې معاف کړې دي. د افغانستان اسلامي امارت د مالیې وزارت هغه مهال وویل، د مالیې وزارت په وړاندیز او پر ملت او په ځانګړي ډول پر خصوصي سکتور د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د ځانګړې مهربانۍ او لورېینې له مخه ټولې اضافي مالیې (مالیاتي جریمې) معاف شوې دي. مالیې وزارت هغه مهال ټولو مالیه ورکوونکو ته وویل چې له دې ستر مالي فرصت څخه دې د خپلې سوداګرۍ او کاروبار د پراختیا او پرمختیا له پاره ګټه واخلي. د سوداګرۍ سکتور د ودې او پراختیا لپاره اسلامي امارت یوازې پر پورته ذکر شوي اقدام بسنه ونه کړه، بلکې د روان ۱۴۰۳ کال د جوزا میاشتې په لسمه نېټه یې د یوې غونډې پر مهال اصنافو او کسبګرو ته هم په ځینو برخو کې ثابته مالیه معاف او په ځینو نورو برخو کې یې بیا د ثابتې مالیې اندازه راټیټه کړه. هغه مهال د مالیې وزارت مسوولینو وویل، د افغانستان اسلامي امارت د زعیم عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د ځانګړي حکم پر بنسټ هغو اصنافو او کسبګرو ته چې د کلنیو فروشاتو کچه یې تر (دوه میلیونو) افغانیو پورې وي، ثابته مالیه په بشپړ ډول معاف ده. د دغه حکم پر اساس، تر دې د پورته فروشاتو له سرجم څخه (۳،۰) سلنه ثابته مالیه اخیستل کېږي، په داسې حال کې چې دغو اصنافو تر دې وړاندې د کلنیو فروشاتو له سرجم څخه تر (یوسلو پنځوس زره) افغانیو پورې معافیت درلود او تر دې له پورته فروشاتو څخه یې (۰،۵) سلنه مالیه اخیستل کېده.

## د سوداګرۍ کچې پر زياتېدو د اضافي ماليې د معافيت اغېزې

د ســـوداګرۍ د ودې او پراختيا لپاره د حکومت ملاتړ يو مهم او اســـاسي اصل دی، ځکه حکومت کولی شي د اقتصادي چاپېريال په جوړولو او تنظيمولو کې مهم رول ولوبوي. د مناسب ســـوداګريز چاپېريال درلودو لپاره يوه مهمه لاره دا ده چې پر سوداګريزو فعاليتونو ماليات کم او په مناسبه اندازه وټاکل شي. حکومت کولی شي د مالياتو د راټيټولـــو او يا هم د ځانګړو ماليـــاتي کڅوړو له لارې ســـوداګر دې ته وهڅوي څو خپل فعاليتونه پراخ او وده ورکړي. ټيټ ماليات يا د مالياتي تخفيفونو کڅوړې کولی شي سوداګرو ته دا فرصت هم ورکړي چې هغوی د خپلو فعاليتونـــو د پراخېدو په موخه لا زياته پانګونه وکړي او د خپلو توکو د توليد، توزيع او پلور لپاره نوي بازارونه ولټوي. د کوچنيو او منځنيو ســـوداګريزو کاروبارونو لپاره د مالياتو ســـاده کول د سوداګرۍ پراختيا ته وده ورکوي. اسلامي امارت دا کار په ډېر جرئت سره وکړ او ټولو هغو اصنافو او کسبګرو ته يې ثابتې ماليې معاف کړې چې کلني فروشات يې له دوو ميليونو افغانيو کم وو. د همدې معافيت په پايله کې د تېرو شاوخوا دوو کلونو پر مهال د کوچنيو او منځنيو کاروباريانو په شمېر کې د پام وړ زياتوالی راغلی دی. دې چارې له يوه لوري زرګونو هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابر کړي او له بل لوري يې د مختلفو توکو په توزيع او فزيکي ســـوداګرۍ کې د پام وړ مثبت اغيز ښندلی دی. له دې ورهاخوا په لويه کچه د سوداګريزو فعاليتونو لپاره د ۹/ ۵/ ۱۴۴۴ نېټې څخه مخکـــې د تېرو دوو کلونو ټول اضافي ماليات معاف شـــول او له هغه را وروسته ورته په ۱۰/ ۳/ ۱۴۰۳ نېټه د ثابتې ماليې انـــدازه له (۰,۵) څخه (۰,۳) سلنې ته راکمه شـــوه. د همدې سهولتونو په پايله کې د توليد، خدماتو، توزيع او مصرف کچه زياته شوه، د يادو فعاليتونو د تـــرسراوي په موخه بې شـــمېره نوي کاري فرصتونه رامنځته شـــول، د مالياتـــو د کموالي له برکته کاروباري لګښتونه کم شول، په مختلفو برخو لکه خوړو، درملو او جامو کې د هېوادوالو اړتياوې په ښـــه ډول پوره شوې، صنعت وده وکړه او په لويه کچه کورنۍ او بهرنۍ پانګونه جذب شـــوه ځکه د ټيټو مالياتو له امله پانګوال وهڅول شول او دلته يې زياته ګټه ترلاسه کړه، د سيالۍ لپاره يو شفاف چاپېريال رامنځته شو، د کورنيو توليداتو او محصولاتو کيفيت، بســـته‌بندۍ او پروسس ته ځانګړې پاملرنه وشوه او دې ټولو د هېواد په کچه د کورني ناخالص توليد او ســـوداګرۍ کچې له زياتېدو سره د پام وړ مرسته وکړه. په تېـــر ۲۰۲۴ کال کې کورني ناخالص توليد ۲,۷ سلنه وده کړې وه او د سوداګرۍ کلنی مجموعي حجم له ۱۲ ميلياردو ډالرو زيات شو.

## پايلـــه

اسلامي امارت په خپل ټول توان او شته امکاناتو څخه په اســـتفادې سره د هېواد د اقتصادي ودې لپاره هڅه کوي. همدې موخې ته د رســـېدو لپاره يو مهم سکټور سوداګري ده. اسلامي امارت د سوداګرۍ کچې زياتېدو او پراخېـــدو په موخه په کور دننه او بهر کې اســـاسي ګامونه اوچت کړي دي. له کورنيو ګامونو يو هم دا دی چې دکوچنۍ، منځنـــۍ او لوړې کچې ســـوداګريزو فعاليتونـــو ته يې په بېلابېلو برخو کـــې اضافي ماليات معاف او پر هغه سربېره يې د ثابتو مالياتو اندازې هم د پام وړ ټيټې کچې ته رارسولې ده. سوداګرۍ سکټور ته د همدې ســـهولتونو برابرولو په پايله کې په هېواد کې ســـوداګريز فعاليتونه وغوړېدل، بې شمېره نوي کاري فرصتونـــه يې رامنځتـــه کړل، په مختلفـــو برخو کې د هېوادوالو اړتياوې پوره شـــوې، د صادراتو په کچه کې زياتوالی راغـــی، د تېر ۲۰۲۴ ميـــلادي کال پر مهال کورني ناخالص توليد ۲,۷ سلنه وده درلوده او په مجموع کې د تېر ميـــلادي کال پر مهال د هېـــواد په کچه د سوداګرۍ کچه له ۱۲ ميلياردو ډالرو زياته شوه، چې د اضافي ماليو معافيـــت او د ثابتې ماليې راټيټېدو په‌کې مهم رول درلود.

# THE ROLE OF AIR CORRIDORS IN INCREASING THE COUNTRY'S EXPORTS



**By** Najibullah Mayar

## Introduction

Afghanistan is a landlocked country with no direct access to the sea, which consistently causes challenges in trade activities. In this context, air corridors hold special significance in facilitating the country's trade. Air corridors directly transport commercial goods to other countries, providing an efficient means for trade. Although the transportation of goods through air corridors can be costly, the reduced transit time and access to international markets offer clear advantages. Through air infrastructure, regional cooperation can increase, and trade can improve, allowing various countries to benefit from this opportunity.

Air corridors offer exporters the possibility to quickly and easily deliver their goods to prominent markets. Most goods transported through air corridors are those with high value and small volume, such as pharmaceuticals, technology-related equipment, and other valuable items. This can positively impact the country's trade and economy.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـــادي او تـــولنيزو مسايلـــو په برخــه کــې

د رياســـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اباډي اوونيزه

هفته‌نامه آبـادی


## The Significance of Air Corridors in Trade

For countries that are landlocked and have no direct access to the sea, air corridors are considered an excellent means of trade and integration with international markets. This concept has transformed trade transactions and played a remarkable role in the global economy. Currently, there are around 31 such landlocked countries worldwide, including 15 African countries, 12 Asian countries, two Latin American countries, and two others from Central and Eastern Europe. While the trade volume of these countries is about 60% lower compared to countries with access to the sea, they are required to spend 50% more on transporting their goods. In such countries, air corridors present an opportunity for economic growth, freeing them from reliance on neighboring countries. The products of landlocked countries must either be transported to international markets via neighboring countries or through air transport, which is costly. Afghanistan, also a landlocked country with no direct access to the sea, was previously dependent on the transit routes of neighboring countries. However, around eight years ago, for the first time, 60 tons of Afghanistan's agricultural products were transported to India via air, marking the opening of the first air corridor for Afghanistan. The air corridor concept was first introduced in 2016 during the sixth Heart of Asia Conference in India, and in 2017, this corridor between Afghanistan and India was officially launched. Subsequently, air corridors with Kazakhstan, China, Turkey, Saudi Arabia, Russia, and the European Union were also established. According to 2019 statistics, 9,000 tons of goods were exported through 905 flights via air corridors. The majority of these goods included dry and fresh fruits, vegetables, medicinal plants, precious stones, carpets, and karakuls. The Islamic Emirate, recognizing the role of air corridors, has made efforts to establish these routes. One such route is the Kabul-Shanghai air corridor. Afghanistan and China have long maintained good relations, with the People's Republic of China investing in some of Afghanistan's mines and securing a contract for the extraction of oil in the Amu Darya basin. Additionally, trade relations between China and Afghanistan have strengthened. To support these relations, the Islamic Emirate and the Chinese government jointly launched the Kabul-Shanghai air corridor, which was inaugurated in 2023 by Deputy Prime Minister for Economic Affairs, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund. During the inauguration ceremony, the Deputy Prime Minister stated that Afghanistan's economic situation is moving toward development, which is the result of the efforts of traders and industrialists, and the world recognizes Afghanistan's growing economy. Through this corridor, Afghanistan's agricultural and other products are being exported to China. This clearly shows that the Islamic Emirate, considering the economic value of air corridors, has taken steps in this direction, and these efforts are ongoing. As a result, trade will expand on one hand, and on the other, Afghanistan's exports will significantly increase, which can accelerate economic growth.

## Conclusion

Air corridors are considered a good option under current conditions, but since the transportation cost is high, transporting many items this way may not be economically feasible. The transportation of Afghanistan's export goods, most of which are dry and fresh agricultural products, involves significant weight, and only small quantities can be transported via air corridors at a high cost. In the absence of sea routes, land transport, particularly railways, is considered an easier and more affordable option. In addition to air corridors, there is a need to explore other solutions, such as extending railways with neighboring countries, utilizing the Lapis Lazuli route, strengthening certain new ports and routes, improving land connectivity with China through the Wakhan Corridor, and addressing existing transit issues. These are considered more cost-effective and efficient methods for the commercial development of Afghanistan. To address these challenges, the Islamic Emirate of Afghanistan launched the Kabul-Shanghai air corridor in 2023, and efforts are ongoing to create further trade facilitation in other areas.

## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابـــل په شهزاده ســرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ؋۷۳,۴۵ | ؋۷۳,۵۰ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلدارې | ؋۲۵۳ | ؋۲۵۳ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ؋۱,۳۳ | ؋۱,۳۳ |
| ۱ | اروپايي يورو | ؋۷۵,۷۶ | ؋۷۵,۸۲ |
| ۱ | روسی روبل | ؋۰,۷۲ | ؋۰,۷۲ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلدارې | ؋۸۴۸ | ؋۸۴۹ |
| ۱ | انگليسي پونډ | ؋۸۹,۳۸ | ؋۸۹,۴۴ |
| ۱ | سعودي ريال | ؋۱۹,۵۸ | ؋۱۹,۵۹ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۲۰,۰۰ | ؋۲۰,۰۱ |
| ۱ | چيني ين | ؋۱۰,۰۳ | ؋۱۰,۰۳ |